مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر ۲۰۲۱/۰۲/۲۲

# اسحق ننګيال،

## د ژورنالیست په توګه

زموږ په ټولنه کې اسحق ننګیال، د یوه شاعر په توګه پېژندل شوی دی، د داسي شاعر په توګه چې په شعرونو کې یې نوښت، نوي انځورونه، نوې بریالی تجربې، نوې ژبني او نادر ترکیبونه او نورې هنري ښېګنې لیدل کېږي.
اسحق ننګیال د دې تر څنګ، د پښتو شعر، په تېره د ازاد شعر له سرلارو څخه ګڼل کېږي. نثر ته یې هم پاملرنه کړې ده، چې د (سیوري) ناول یې د ځېرونکو په اند، په نثر او پښتو ناول لیکنه کې یوه نوې تجربه او بېله لاره ګڼلای شو. خو ننګیال د دې تر څنګ یو ښه او بریالی ژورنالست هم و، چې د هغه پر ژورنالستیکو کارونو تر اوسه پورې ځېړنه نه ده شوې. زه به په دې لنډ او تنګ وخت کې د ننګیال پر ژورنا لستیکو کارونو یو څغلند نظر واچوم.
اسحق ننګیال که څه هم له آره ژورنالست نه و او نه یې هم د ژورنالیزم په برخه کې لوړې زده کړې کړې وې، خو د خپل ادبي ژوند یوه زیاته برخه یې ژورنالستیکي فعالیتونو ته ځانګړې شوه. زما په اند د ژورنالیزم په برخه کې د ننګیال کار دوه پړاوونه لرل، یو هغه و چې ننګیال د وظیفوي ضرورتونو پر بنا د خبریالی چارو ته مخه کړې وه او بله یې هم د ده د ځاني مینې له وجې وه. اسحق ننګیال کله چې د٦ لسیزې د پیل په کلونو کې د پولیسو له اکاډمۍ څخه فارغ شو، د (څارندوی) مجلې د خبریال په توګه په کار وګومارل شو. دا یوه مسلکي فوځي مجله وه، چې د کورنیو چارو وزارت له خوا په میاشت کې یو ځل له چاپه راوتله. هغه وخت پر افغانستان د یوه ګوند واکمني چلېدله. د مجلې ژورنالستان او کارکوونکي مجبور وو، چې د حکومت له پالیسی سره سم مطالب خپاره کړي. ننګیال د کار د پیل په لومړیو وختونو کې دا ډول څه لیکني چاپ کړي، خو شاعر زړه یې له یو اړخیزه لیکنو په تنګ شو، په خپله به یې ویل: "زه د زنده باد او مرده باد سړی نه یم، نه غواړم بتان جوړ کړم او په نورو یې د منلو هڅه وکړم، بلکې غواړم سپین ته سپین او تور ته تور ووایم".
څه موده یې د څارندوی مجلې د ادبي پاڼې، د مطالبو د چمتو کولو چارې پر غاړه واخیستې، د دې ترڅنګ یې د (څارندوی غږ) او (که دا اور، که دا لمبې وي) د شعرونو د مجموعې په چاپ کې فعاله برخه واخیستله. په دغه سیاسي، ټولنیزه او مسلکي مجله کې د کار په موده کې یې هم تل هڅه کوله، چې تخلیقي ادب ته کار وکړي، خبرې رپوټونه او ژور نالیستکي لیکني یې هم تر ډېره حده بې طرفه وي. ننګیال څه موده د څارندوی مجلې د چاپ چارې پر غاړه لرلې، خو د دې ترڅنګ یې مجلې ته خبرې رپوټونه هم چمتو کول. دی سره له دې چې د پولیسو مسلکي افسر و، خو له پوځي دریشی سره یې چندان جوړه نه وه، ځکه دی یو عاطفي شاعر و، ځکه خو د ده لاره بېله او د عسکرۍ مسلک لاره بېله وه.
وایي یو ورځ د وخت د کورنیو چارو وزیر، سید محمد ګلاب زوی ننګیال خپل دفتر ته وغوښت او ورته ویې ویل: ته د څارندوی افسر یې، خو زه دې په غونډو او مشاعرو کې وینم، چې دریشي نه اغوندې.
ننګیال مخامخ ګلاب زوی ته دا نه شوای ویلای، چې عسکري دریشي یې نه خوښېږي،ځکه دا په عسکري کې له انضباط، دسپلین او تعلیمات نامې څخه یوه سرغړونه بلل کېږي. نوهغه ته یې وویل:
وزیر صاحب! زما رتبه ډېره ټیټه ده، که عسکري دریشي واغوندم، رتبه مې معلومېږي.
ګلاب زوی چې د عسکري نظم او دسپلین سخت پلوی و، د ننګیال په دې خبره په غوصه نه شو، په هغه ځای یې هغه ته ترفیع منظوره کړه او ورته ویې ویل:
ته یو ښه شاعر یې، اوس دې رتبه لوړه شوه، له دې وروسته پوځي دریشي اغونده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

خو اسحق ننګیال له هغه وروسته هم عسکري دریشي وانه غوستله. هغه وخت په مجله کې لیکنې او رپوټونه ټول یو اړخیز وو، ژور نالست مجبور و، هغه څه را واخلي چې د حکومت په ګټه وي. خو ننګیال به دا رپوټونه هم په داسې ژبه لیکل، چې د ټولو به خوښېدل. په خپلو لیکنو او رپوټونو کې به یې کلیشه یي او عمومي خبرې نه کولې، د بېلګې په توګه، د ۱۳۶۳کال د څارندوی مجلې د یوې ګڼې پاڼې رااړوو، چې ننګیال دلته د ښوونځي د یو ساتونکی په باب د(سپین ږیری یمه، خو اراده مې ځوانه ده) تر سرلیک لاندې رپوټ لیکلی دی. دی په دې رپوټ کې د هغه وخت مروجې مجلې نه راوړي، بلکې د هغه د شخصي ژوند حال موږ ته راکوي، چې دا دی وروسته له شلو کلونو زموږ مخې ته هغه شپې ورځې دروي. دی د هغه له خولې لیکي:
”اوس مې ژوند ښه تېرېږي، د میاشتې شپږ زره افغانۍ معاش راکوي، بدل اعاشه هم راکوي، زامن مې ښوونځي ته ځي، زه د هغوی د ښوونځیو ساتنه کوم او تر هغو به یې ساتم، تر څو مې په رګو کې وینه چلېږي“.
په څارندوی مجله کې کار، د اسحق ننګیال د ژورنالستیکو فعالیتونو پیل و. ده له دې وروسته ډېر کلونه په ”پیام“ ورځپاڼه کې د پوځي خبریال په توګه کار وکړ او زیاته موده یې د دغې ورځپاڼې، د ادبي پاڼې د چمتوکولو او لیکلو چارې هم پر غاړه لرلې.
په پیام ورځپاڼه کې د ننګیال ژورنالستیک نثر ډېره ښه وده وکړه، کېدای شي دا کلونو د ننګیال، د ژورنالستیک نثر د لوړتیا کلونه وبولو، شاعرانه مفاهیم، د موضوع لنډ بیان، پر مفاهیمو تاکید او د ولسي عبارتونو په مرسته، د بیان سوچه والی. کېدای شي، د ننګیال د دغې دورې د ژور نالستیک نثر مهمې ځانګړنې وبولو. ده به اوږ دې مقالې او رپوټونه نه لیکل، بلکې په ډېرو لږو مانا لرونکو جملو کې به یې خپل مطلب رساوه. پر ځینو مطالبو تاکید او ټینګار او کله، کله هم ښه تکرار یې ژورنالستیک نثر لا ښکلی کړی و او د شعري مفاهیمو په مرسته یې نثر د ټولو د خوښې او منني وړ ګرځیدلی و.
په پیام ورځپاڼه کې د کار په وروستیو کلونوکې د ننګیال هڅه دا وه، چې په مقالو او رپوټونوکې بې طرفې وساتي. چې تر ډېره حده بریالی و. ننګیال د لنډ وخت لپاره د لیکوالو، د ټولنې د نشراتي ارګان ”ژوندون“ مجلې مسوول مدیر هم و او څه موده یې له نورو لیکوالو او ژور نالستانو سره یو ځای د (هنداره) په نوم، خپلواکه جریده هم وچلوله.
هنداره اوونیزه، د ننګیال او یو شمېر نورو لیکوالو او ژور نالیستانو په نوښت، په داسې وخت له چاپه راووتله، چې کابل د تنظیمونو په خپل منځي جګړو کې د توغندیو په تورو دودونو کې ایله ساه ایستله. هغه وخت له کابله ټول اوسېدونکې په تېښته وو. خو ننګیال او څو تنو نورو ژور نالیستانو د کرکې په هغو تورو لړو کې یوه داسې جریده چاپوله، چې د وخت پر خلاف یې د کینې پر ځای، مینه خوروله. په دې اوونیزه کې د ننګیال او نورو لیکوالو لیکنې وې، چې دا جریده یې ډېر ژر د افغانستان د ګوټې په شمار خپرونو په لومړۍ لیکه کې ودروله.
اسحق ننګیال پرته له کوم مادي امتیاز څخه په ډېره مینه کار کاوه او په سختو جګړه اییزو شرایطو کې یې دا جریده وچلوله. د ننګیال د ژور نالستیکو کارونو په باب اوږدو څېړنو ته اړتیا ده، که د هغه ژورنالستیکي لیکنې او رپوټونه راټول او د کتاب په بڼه چاپ شي، د ادب او ژورنالیزم په ډګر کې به یوه بله زیاتونه وي. هیله ده، اړوند ارګانونه په دې برخه کې مرسته وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ